# په ټولنه کې د ادغام دورې اړوند د لاربنود پاڼه

لپاره د

- د پناه غوښتونې قانون (AsylG) بند 1 ماده 55 مطابق د اقامت اجازه لرونکي د پناه غوښتونکي،
- د اقامت قانون (AufenthG) جمله 3 بند 2 ماده 60a مطابق د آلمان څخه د ایستل کیدو د لنډمهاله توقف سند (Duldung) لرونکي بهرني اتباع
- د اقامت قانون جمله 3 بند 2 ماده 60a مطابق د آلمان څخه ایستل کیدو د لنډمهاله توقف سند لرونکي بهرني اتباع د اقامت قانون بند 1 ماده 60c مطابق د روزني یا زده کړې دلیل له مخې (Ausbildungsduldung) یا هم د اقامت قانون بند 1 ماده 60d مطابق د شغلي دلیل له مخې (Beschäftigungsduldung) سره په تړاو کې
- د اقامت قانون ماده 24 یا د اقامت قانون بند 5 ماده 25 مطابق د اقامت جواز لرونکي بهرني ابتاع

ښاغلو او آغلو،

تاسي کولی شئ په ټولنه کې د ادغام دوره کې د ګډون په موخه د منل کیدو لپاره د فدرال د مهاجرت او پناه غوښتونکو اداري (BAMF) ته غوښتنه وکړئ. د دې موخې لپاره تاسي باید د لاندې شرایطو څخه یې یو ولرئ:

- تاسي د پناه غوښتونکي یې او د اقامت لنډمهاله اجازه لرئ

یا

- تاسي د جمله 3 بند 2 ماده 60a مطابق د آلمان څخه د ایستل کیدو لنډمهاله توقف سند یا د اقامت قانون ماده 24 مطابق یا د اقامت قانون بند 5 ماده 25 مطابق د اقامت جواز لرئ.

ټکی: که تاسي مخکې د پناه غوښتنې ورکولو پرمهال یا د پناه غوښتنې اړوند شخصي اوریدا پرمهال په ټولنه کې د ادغام دورې لپاره منل شوي یې، پدې صورت کې لازمي نده په دوره کې د ګډون په موخه د منل کیدو لپاره غوښتنه ورکړئ.

ماشومان، تنکي ځوانان او ځوانان چې لاهم په ښوونځي کې زده کړې کوي، نشي کولی په ټولنه کې د ادغام دوره کې ګډون وکړي.

په ټولنه کې د ادغام دوره څه شی دی؟

په ټولنه کې د ادغام دوره په عموم کې دوه برخې، د ژبې د زده کړې دوره او د لاربښوونې دوره لري.

د ژبې د زده کړې دوره کې تاسي هغه ټکي یادوئ چې تاسي په ورځني ژوند کې د غږیدو او لیکلو لپاره ورته اړتیا لرئ. د ادارو سره ارتباط، د ګاونډیانو سره او د کار ځای کې خبرې کول، د لیکونو لیکل او د فورمو ډکول د دغو مواردو څخه دي.

د لاربښوونې دوره په آلمان کې د ژوند په اړه تاسي ته معلومات در کوي. دلته تاسي د هیواد حقوقي نظام، کلتور او وروستي تاریخ په اړه زده کړه کوئ.

په ټولنه کې د ادغام عمومي دوره د ژبې 600 ښوونیز واحدونو یوه دوره (یو ښوونیز واحد 45 دقیقې دی) او د لاربښوونې 100 ښوونیز واحدونو دوره لري. د ژبې ښوونیزه دوره د شپږو برخو څخه جوړه ده چې هره برخه یې 100 ښوونیز واحدونه لري. لومړي 300 ښوونیز واحدونه بنسټیزه دوره او وروستي 300 ښوونیز واحدونه د ژبې د تکمیلي زده کړې دوره نومول کیږي.

همدارنګه په ټولنه کې د ادغام ځانګړې دورې هم شتون لري، لکه د ښځو، والدین، تنکي ځوانانو او همدارنګه د هغه افرادو لپاره چې نشي کولی په سم ډول لیک او لوست وکړي. دا دورې 1.000 ښوونیز واحدونه لري.

KNr. 630.121j Paschtu BAMF 01/2023

که تاسي ډیر په چټکی سره زده کړه کوئ، کولی شئ په یوه متراکم دوره کي ګډون وکړئ.

هغه موسسي چي په ټولنه کي د ادغام دورې په لاره اچوي، چي د «دورې په لاره اچوونکي» یادیږي، د دورې د پیل څخه مخکي ستاسي د سطحي ټاکلو لپاره یوه ازموینه اخلي. پدې ازموینه کي ټاکل کیږي چي ستاسي لپاره د کومي دورې او د دورې د برخي څخه پیل کول ښه دي. د سطحي د ټاکلو ازموینه وړیا ده.

په نهایي ازموینه کي ګډون

نهایي ازموینه د ژبي یوې ازموینې او د لارښوونې دورې په پای کي یوې ازموینې څخه جوړه ده چي د «په آلمان کي ژوند» ("Leben in Deutschland") نوم لري. که تاسي د ژبي ازموینه کي د آلماني ژبي سره کافي اشنایی (د ژبي B1 سطح) اثبات کړئ او د «آلمان کي ژوند» ازموینه کي قبول شئ، نو په ټولنه کي د ادغام دوره مو په بریالیتوب سره پای ته رسولي ده. پدې صورت کي تاسي «په ټولنه کي د ادغام دورې تصدیق» ترلاسه کوئ.

که تاسي په یوې یا دواړه ازموینو کي بریالي نشئ، د خپلي پایلي په اړه یو تصدیق ترلاسه کوئ.

په نهایي ازموینه کي ګډون کول وړیا دي.

په ټولنه کي د ادغام دورې لپاره د فدرال اداري له لارې منل کیدل او د دورې په لاره اچونکي سره نوم لیکنه

مهرباني وکړئ د منل کیدو لپاره غوښتنه په بشپړ او د لوستل کیدو وړ توګه ډک کړئ. که ستاسي لخوا ورکړل شوې پته د یوه بل فرد په نوم وي، هرو مرو د «احتمالي اوسیدونکي (c/o)» برخه ډکه کړئ، غیرلدې د پوستي خط ترلاسه کیدل ممکن ندي. په غوښتنه کي ذکر شوي اسناد ضمیمه کړئ او بیا په هغې کي ورکړل شوي پتې ته یې ولیږئ.

تاسي د منل کیدو غوښتنه کي د خپل لاسلیک په واسطه د دې مسلې سره خپل موافقت اعلاموئ چي د مهاجرت او پناه غوښتونکو فدرال اداره په ټولنه کي د ادغام دورې په لاره اچولو موخي سره راټوله شوې ډیټا پروسس کړي او ورڅخه ګټه پورته کړي.

ستاسي لاسلیک، تر کومه چي ضروري وي، د بهرني اتباع مرکزي ثبت دفتر کي موجود ډیټا سره پرتله کي هم شامل دی. دا مسله بیاځل ارزول کیږي چي آیا د پناه غوښتني قانون بند 1 ماده 55 پراساس لنډمهاله اجازه، د اقامت قانون جمله 3 بند 2 ماده 60a مطابق د آلمان څخه د ایستل کیدو لنډمهاله توقف سند یا د اقامت قانون ماده 24 مطابق یا د اقامت قانون بند 5 ماده 25 مطابق د اقامت جواز شتون لري که نه.

که تاسي په ټولنه کي د ادغام یوه دوره کي د ګډون لپاره ومنل شئ، د فدرال اداري څخه تایید ترلاسه کوئ چي تاسي په ټولنه کي د ادغام دوره کي د ګډون مستحق یی چي د «استحقاق تصدیق» په نوم یادیږي. تاسي ته څیرمه د دورې په لاره اچوونکي او د په لاره اچول کیدو ځایونه او همدارنګه ستاسي مسؤل فدرال اداري سیمه ییز دفتر په انټرنیټ کي دلته موندلی شئ:

https://bamf-navi.bamf.de/de/

ټکی: که تاسي مخکي د پناه غوښتني ورکولو پرمهال یا د پناه غوښتني اړوند شخصي اوریدا پرمهال په ټولنه کي د ادغام دورې لپاره د استحقاق تصدیق ترلاسه کړی، پدې صورت کي لازمي نده په دوره کي د ګډون په موخه د منل کیدو لپاره غوښتنه ورکړئ.

د دورې لپاره ستاسي منل کیدل د یوه کال لپاره اعتبار لري. د استحقاق تصدیق کي لیکل شوي چي ستاسي منل کیدل تر کومي نیټي پورې اعتبار لري. مهرباني وکړئ په ټولنه کي د ادغام دورې لپاره تاسي ته اعلام شوي دفتر کي نوم لیکنه وکړئ او هلته خپل د استحقاق تصدیق وړاندې کړئ. که چیرې تاسي ته کوم ټاکلی دفتر اعلام شوی نه وي، ژر ترژره ستاسي د پام دورې په لاره اچوونکي سره نوم لیکنه وکړئ.

په دوره کي د سمدلاسه ګډون څخه د ډاډ ترلاسه کولو لپاره ممکن دي د فدرال اداره تاسي د ټاکلي دورې په لاره اچوونکي ته ولیږي.

د دورې په لاره اچوونکی باید د دورې د احتمالي پیل په اړه تاسي ته خبر درکړي. دوره باید ستاسي د نوم لیکنې څخه وروسته د شپږ اونیو په موده کې پیل شي. که چیرې پدې موده کې دوره تشکیل نشي، د دورې په لاره اچوونکی باید تاسي ته خبر درکړي.

مهرباني وکړئ متوجه اوسئ چې که چیرې تاسي د کومو دلایلو له امله چې مسؤل یې تاسي اوسئ، د نوم لیکنې څخه وروسته نهایت په یوه کال کې په ټولنه کې د ادغام دوره پیل نکړئ یا په دوره کې ګډون د یوه کال څخه ډیرې مودې لپاره وځنډوئ، نو ستاسي د ګډون استحقاق پای ته رسیږي.

په دوره کې د مقرراتو مطابق ګډون کول

د دې لپاره چې تاسي په ټولنه کې د ادغام موخي ته ورسیږئ، باید د مقرراتو مطابق په دوره کې ګډون وکړئ. دا پدې معنی دی چې تاسي په منظم ډول تر پای پورې د ښوونې دوره تیره کړئ او په نهایي ازموینه کې ګډون وکړئ. که چیرې تاسي لیواله اوسئ ستاسي د دورې په لاره اچوونکی د مقرراتو مطابق ګډون ستاسي لپاره تاییدوي.

د ماشومانو پاملرنه

که تاسي په ټولنه کې د ادغام دورې تیرولو لپاره د ماشومانو پاملرنې ته اړتیا لرئ، مهرباني وکړئ د دورې په لاره اچوونکي ته مراجعه وکړئ. د دورې په لاره اچوونکی تاسي ته د پاملرنې شته انتخابونو په اړه معلومات در کوي.

د دورې په لاره اچوونکي بدلول

د دورې په لاره اچوونکي بدلول عموماً یوازې د دورې د یوې برخې پای ته رسیدو وروسته مجاز دي. بدلون یوازې د ځانګړې شرایطو د شتون په صورت کې، په ځانګړې توګه د ځای بدلیدو یا کډه کولو په صورت کې، د نیمه وخت او بشپړ وخت دورو منځ کې بدلون، د ماشومانو د پاملرنې امکان چمتو کولو لپاره یا هم د دورې د یوې برخې وروسته د کومې روزنې یا د کار او کسب فعالیت پیل کولو لپاره امکان لري.

د نورو دلایلو لپاره د بدلون په صورت کې د دورې د هغه برخې ښوونیز واحدونه چې تیر شوي ندي، هغه له لاسه ورکوئ.

د مجاز بدلون په صورت کې، د دورې په لاره اچوونکی باید د استحقاق تصدیق تاسي ته بیرته درکړي.

په ټولنه کې د ادغام دورې لګښتونه

په دوره کې ګډون ستاسي لپاره وړیا دی.

د تګ او راتګ لګښتونه

تاسي کولی شئ د فدرال اداري څخه د مرستې غوښتلو په صورت کې په ټولنه کې د ادغام دورې ته ستاسي د تګ او راتګ لګښتونو لپاره مرسته ترلاسه کړئ. د دې موخې لپاره لازمي شرط دا دی چې د دورې ځای باید ستاسي د کور څخه لږترلږه 3 کیلومتر واټن ولري. د لګښت مرسته د یوه ټولیز مبلغ په توګه او یوځای ورکول کیږي. مهرباني وکړئ غوښتنه ستاسي د اوسیدو ځای اړوند د فدرال اداري سیمه ییز دفتر ته ولیږئ. دا دفتر په انټرنیټ کې دلته موندلی شئ [https://bamf-navi.bamf.de/de/](https://bamf-navi.bamf.de/de/).

د ژبې دورې حداکثر 300 ښوونیز واحدونو بیاځل تیرول

تاسي کولی شئ د ځانګړي شرایطو لاندې یو ځل نهایت تر 300 ښوونیزو واحدونو پورې د ژبې دوره بیاځل تیره کړئ. د دې موخې لپاره تاسي باید په بشپړ ډول د ژبې زده کړې یوه دوره کې ګډون کړی وي او وروسته مو د ژبې یوه ازموینه کې ګډون کړی وي او په هغې کې مو د آلماني ژبې سره کافي اشنایی (د ژبې B1 سطح) اثبات کړې نه وي.

په تکراري دورو یا ټولګیو کې د ګډون لپاره غوښتنه کول لازمي دي. مهرباني وکړئ دا غوښتنه ستاسي د اوسیدو ځای د فدرال

اداري سیمه ییز دفتر ته وړاندې کړئ.

که تاسې د سواد زده کړې دوره تیروئ، د ژبې تکمیلي دورې بیاځل تیرولو لپاره د ژبې ازموینه کې دمخه ګډون د دې لپاره چې وکولی شئ بیاځل 300 ښوونیز واحدونه تیر کړئ، لازمي ندي.

نور څه شي باندې باید پوه هه شئ

تاسې د لارښوونې دې پاڼه کې ذکر شوې د غوښتنې ټولې فورمې د دورې په لاره اچوونکي، ستاسې اړوند د بهرنې اتباع اداري یا هم ستاسې د اوسیدو سیمه کې د فدرال اداري سیمه ییز دفتر څخه ترلاسه کولی شئ. علاوه لدې دا فورمې په انټرنیټي سایټ کې دلته هم موندلی شئ: https://www.bamf.de/formulare.

تاسې همدارنګه دا امکان هم لرئ چې خپلې غوښتنې په ډیجیټلي بڼه د فدرال پورټال له لارې د فدرال اداري ته ولیږئ.

لاندې غوښتنې په ډیجیټلي بڼه تاسې ته د لاسرسي وړ دي:

- په ټولنه کې د ادغام دوره کې د ګډون په موخه د منل کیدو لپاره غوښتنه
- د ژبې زده کړې بیاځل 300 ښوونیزو واحدونو تیرولو کې د منل کیدو لپاره غوښتنه
- د ټک او راټګ لګښت مرستې ورکولو لپاره غوښتنه پشمول د لوړې ورځنۍ مرستې د ټولیز مبلغ ورکړه

د دې انټرنیټي پتې له لارې تاسې کولی شئ د فدرال پورټال کې آنلاین غوښتنو ته لاسرسی ولرئ:

[د آنلاین غوښتنو پورې اړوند انټرنیټي پته]

د آنلاین غوښتنې وړاندې کولو په تړاو نور ټول معلومات دلته موندلی شئ:

[د آنلاین غوښتنې ورکولو په تړاو معلوماتو اړوند انټرنیټي پته]

مهرباني وکړئ علاوه لدې د مهاجرت مشورې مرکز سپارښتنې او همدارنګه د ځوانانو د مهاجرت خدمتونو ته هم توجه وکړئ. هغوی د غوښتنو په برخه کې تاسې سره مرسته کوې، پوښتنو ته ځواب ورکوي او ستاسې سټونزو ته رسیدنه کوي او کولی شي ستاسې لپاره په ټولنه کې د ادغام مناسب دورې پسې وګرځي. تاسې پدې اړه چې د مهاجرت مشورې او د ځوانانو د مهاجرت خدمتونو مرکزونه تاسي ته څیرمه چیرې موقعیت لري، کولی شئ خپلې د بهرنې اتباع اداري، د فدرال اداري سیمه ییز دفتر څخه یا په انټرنیټ کې د https://bamf-navi.bamf.de/de/ څخه معلومات لاسته راوړئ.

د لارښوونې دا پاڼه په ټولنه کې د ادغام دوره کې د ګډون په اړه ستاسې لپاره خورا مهم معلومات لري. د دورې په لاره اچوونکي هم کولی شي ستاسې ډیرې پوښتنې ځواب کړي.

په ټولنه کې د ادغام دورې تیرولو مودې په جریان کې تاسې په قانوني توګه د پیښو بیمې د پوښښ لاندې نه یې.

په ټولنه کې د ادغام دورې تیرول ستاسې د پناه غوښتنې پروسه باندې هیڅ اغیزه نلري.

موږ په ټولنه کې د ادغام دورې تیرولو کې تاسې ته د ډیرو بریاو هیله لرو!